مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۰/۰۴/۰۷

# کورونا او د خوشال بابا یوه قصیده

## خوشال پوهنه

## اشعار

## ۴۱

د غــــواص د کـــال وبـــا
خـــدای دې مـــه راولـه بـیـا

اکـوړ خیـل مـې پـه کې ومړل
لــوی هــلــکـ مـــرد و نسا

بـختنـاک خـان مې پـه کې ومړ
مـــور یــې هــم بوتلـه وبا

یـــو هــلــک یـې و راپاتـې
وړپـسې شـــو ژر پـــنـــا

چـا تــه ژاړم لــه دې غمـه
سـود مـې کـــړ دی د ژړا

لـــور پـه لـور پـه دا لمبو کې
عـــالـــم پــروت پـه واویـلا

تــــر دکــنـه تـــر کـــابـلـه
راخـــوره شـــوه دا بـلا

(خوشحال خان ختک)

لکه دا اوس چې د «کوید ۱۹» وبا ټوله نړی او ټول بشریت تر تهدید لاندې رواوستی دي، دغسې د خوشال بابا په زمانه کې هم دې ته ورته کوم وژونکی ویروس چې هغوی وبا بلله، پیدا شوی و او په لکونو انسانان یې د ګور تیارو ته ورښکته کړي وو.

خوشال بابا د یوه داسې قلموال او شاعر په توګه چې د خپلې کورنی غړي یې هم همدې وبا او همدې بلا د ګور تیارو ته ښکته کړي و، د زړه له درده د شعر په ژبه د هغې وبا حالت او بشریت ته، د ده کورنی ته یې د سر تاوانونه رسولي وو. خوشال بابا هغه حالت د وبا د خپرېدو او ببرته ورکېدو، له نـېتو سره په خپله یوه قصیده کې بیان کړی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خوشال بابا د وبا خپرېدو او ببرته وکېدو نېټې په خپله یاده قصیده کې داسې ښوولې ده:

د «غـــواص» د کـــال وبـا
خـــدای دې مـــه راولـــه بیا

*****

کال «حصغ» شو وبا ولاړه
هـــم عسرت کړه راتـــه شا

په پاسنیو دوو بیتونو کې خوشال بابا د وبا د راتګ او ببرته ورکېدو نېټې د ابجد په تورو سره ښودلې دي. په لومړي بیت کې د «غـــواص» په کلمه کې د وبا راتګ نېټه چې یو زر او اوه نوی (۱۰۹۷ هـ ق) کال کېږي او په دویم بیت کې د «حصغ» په کلمه کې د وبا ببرته ورکېدو نېټه، چې یوزر او اته نوي (۱۰۹۸ هـ ق) کال کېږي، ځای پر ځای کړې ده. د ابجد په تور د پاسنیو نېټو استخراج داسې کېږي:

«غواص»:

غ ـ ۱۰۰۰

و ـ ۶

ا ـ ۱

ص ـ ۹۰

چې د ټولو مجموعه کېږي یورز او اوه نوي (۱۰۹۷هـ ق)

دغه راز «حصغ»:

ح ـ ۸

ص ـ ۹۰

غ ـ ۱۰۰۰

چې د ټولو مجموعه کېږي یورز او اته نوي (۱۰۹۸هـ ق)

بشریت به په هغه وخت کې د داسې یوې وبا د مخنیوې او درولو له پاره دومره پوهه، تجربه او امکانات نه درلودل، لکه اوس یې چې لري. اوس له دومره امکاناتو سره او د علم او تکنالوژۍ په دې پرمختللي عصر کې «کوید ۱۹» ته بشریت تقریباً په ګونډو شوی دی، په هغه وخت به څه حال و او څنګه به یې هره ورځ په زرګونو انسانان د مرګ کومې ته ورپورې وهل.

خوشال بابا د هغه وخت د وبا حالت د شعر په ژبه د یوې لنډې قصیدې په قالب کې ترسیم کړی دی چې ټول درویشت (۲۳) بیتونه دي، چې د ده د کلیاتو د قصایدو په برخه کې راوړل شوې ده.

(د خوشال کلیات، د زاهد مشواني اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۳۷۷ مخ)

د خوشال بابا دا قصیده د دکلمې په بڼه زمزمه شوې ده چې په یوتیوب کې یې ویډیو لیدلای او اورېدلای شئ.

خوشال بابا په دې قصیده کې د ټولو خلکو د تباهي یادونه کوي: خپل خیل (اکوړ خیل) یادوي، ښځې، نر، لوی واړه، خپل اولادونه، لمسیان او...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د دې وبا په راتګ سره د خوشال بابا ځوان درويشت کلن زوی چې بختناک نومېده، مړ شو. دغه راز د بختناک مور او يو يې هم زوی وبا ووژل. دغه راز د خوشال بل لمسی سرفراز خان چې د سعادت خان زوی و، هم مړ شو چې په همدې قصيده کې يې خوشال يادونه کړې ده. د خوشال بابا يو بل لمسی هم په همدې زماني واټن کې تلف شوی دی چې هغه معظم خان نومېده او د بهرام خان زوی و.

د ډېرو مالوماتو له پاره وګورئ:
(هېوادمل زلمی سرمحقق، ننګيالی د زمانې، د افغانستان د فرهنګي ودې ټولنه ـ جرمني، ۲۰۰۱ م کال، ۱۵۲ ـ ۱۵۳ مخونه)

دا هم د خوشال بابا بشپړه قصيده چې د خپل وخت د وبا حال يې په کې بيان کړی دی:

د غواص د کال وبا
خدای دې مه راوله بيا

اکوړ خيل مې په کې ومړل

لوی هلک مرد و نسا
بختناک خان مې په کې ومړ
مور يې هم بوتله وبا

يو هلک يې و راپاتې
ورپسې شو ژړ پنا

چا ته ژاړم له دې غمه
سود مې کم دی د ژړا

لور په لور په دا لمبو کې
عالم پروت په واويلا

تر دکنه تر کابله
راخوره شوه دا بلا

په لکونو عالم ومړ
چې ښارونه شول صحرا

اول قحط بيا وبا وه
په هر لوري وه غوغا

سرفراز د سعادت و
ښه لمسی مې و زيبا

هم حافظ د درست قرآن و
هم په خط و بې همتا

د ښکار سپی يې و ساتلی
ليونی شو بې غوغا

لاس يې وروړ بې خبره
چې ګانه يې خپل اشنا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دی یـي وچیچـه پـــه لاسـو
لا عـــلاج شــــــو لا دوا

پــه دا کــال لــه ما قضا کړ
پــه ارمــان، ارمـــان جــدا

کــال «حصغ» شـو وبــا ولاړه
هـــم عسرت کـــړه راتـــه شا

بـــارانـــونــه دي وریږي
ودانـــي شـــوه پـــه دنـیا

نــه تل غم وي نـه ښـادي وي
وار پــــه وار وي هـــغــه دا

پــه هـر حـال شکر بـایده دی
چـي بـــد تـــره نـــه شـــي لا

اوس څـه غـم د عـالمګیر دی
چـي عـــالــم یـي کـړ رسـوا

د وبا غونـدې زر ورک شوای
بـل یـو ښـه شـوای را پـیـدا

یـو خــوشال دا دعـا نـــه کـا
درست جـهـــان کـــا دا دعـــا

اجــابــت بـه یـــي زر وشي
کـه د خـدای وي پـرې رضــا

(د خوشال کلیات، د زاهد مشواني اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۳۷۷ مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ